۰۲ لارښوود

# په الکترونیکي ډول د مالیې ورکړه

منل | خدمت | ډاډ

اطاعت پذیری | خدمت | اطمینان

Compliance | Service | Making Sure

د عوایدو لوی ریاست
ریاست عمومی عواید
Afghanistan Revenue Department

ماليه ورکوونکي (که وغواړي) کولاي شي چې د ورکړې وړ ماليه په اليکترونکي ډول د اسعارو د انتقال له لیارې ورکړي. دا پروسه ډيره آسانه ده او د اطاعت پذيري پروسه هم اسانه کوي په ځانګړې توګه د هغو شرکتونو او نهادونو لپاره چې د حساب او ورکړو دفترونه يې په افغانستان کې نه وي.

## د بريښنا له لیارې د پيسو ليږد :

**لومړۍ مرحله:**

د ورکړې وړ ماليې لپاره مناسب مالياتي اظهارليک بشپړ کړئ.

د يادونې وړ ده چې د بريښنا له لیارې د مالياتي اظهارليک د وړاندې کولو پروسه د ماليي د ورکړې (د بريښنا له لیارې) پروسې ته ورته نه ده ځکه چې د ماليې ورکړه او د مالياتي اظهارليک وړاندې کول دوه مختلف کارونه دي.

**دوهم مرحله :**

ټوله هغه ماليه چې ماليي وزارت ته د ورکړې وړ ده بايد محاسبه شي .

ماليي وزارت ته ټولې ورکړې بايد په افغانيو اسعارو سره صورت ومومي.

که چيرې تاسو د بهرني نهاد په توګه ماليه ورکوئ، کولاي شئ چې خپله ماليه د خپل هيواد په اسعارو (ډالر، ايرو، پونډ او داسې نور) سره ورکړي.

که چيرې تاسو خپله ماليه له افغانيو نه پرته په کومو نورو اسعارو سره ورکوئ، ستاسو ماليه به د بريښنا له لیارې د پيسو ليږد د هغه نرخ له مخې افغانيو ته اړول کيږي چې د افغانستان بانک لخوا د پيسو د ليږد پرمهال وضع شوي دي.

که چیرې د ورکړې د ترلاسه کیدو په ورځ د تبادلې نرخ د هغې ورځې د تبادلې له نرخ څخه توپیر ولري چې په لومړي ځل ورکړې (تادیات) پکې صورت موندلای دي، کیدای شي په مالیې وزارت کې ستاسو مالیاتي حساب د اسعارو د تبادلې له امله کم یا زیات شي.

دمالیې وزارت به تا سو ته ستاسو د مالیاتو دحساب په اړه وخت په وخت خبر درکوي ترڅو خپلو مالیاتو د اضافه کیدو او یا هم پدي هکله د باقي کیدو څخه او د خپلو راتلوونکو مالیاتو د ورکړې په اړه خبر اوسۍ.

که چیرې مو باقیداري زیاته وي، د مالیې له راتلوونکې ورکړې نه مخکې باید هغه تصفیه کړي.

دریمه مرحله:

ورکړه (تادیات)

که چیري ستاسې ورکړې د بهرنۍ اداري له خوا ورکول کیږي، خپلي مالي اداري ته وواياست چي ستاسو مالیات په الکترونیکي توګه د افغانستان بانک له لیاري:

ډالر:

- Citibank, New York, SWIFT BIC: CITIUS۳۳;
  Account Number: ۱۰۹۲۰۱۲۹ or
- Bank of America, SWIFT BIC: BOFAUS۲S;
  Account Number: ۲۲۹۰۰۸۸۷۲

ایرو:

- Deutschebank, SWIFT BIC: DEUTDEFF;
  Account Number: ۱۰۰۹۵۰۱۳۱۳ or
- Commerzbank, SWIFT BIC: COBADEFF;
  Account Number: ۸۷۰۱۰۷۰۰۰

لاندې بانکي حساب ته ولیږدوي:
- Beneficiary: Ministry of Finance
- Beneficiary Account Number: ۱۲۰۳۰۴۱
- Beneficiary Bank: Da Afghanistan Bank (DAB), Kabul, Afghanistan; SWIFT code (BIC), AFGBAFKA

که چیري ستاسې ورکړې د کورنۍ اداري له خوا چې په افغانستان کې موقعیت لري ورکول کیږي، هغوي ته ووایاست چې خپلې ورکړې لاندې بانکې حساب کې تحویلې کړي:

دافغانستان بانک، د مالیې وزارت حساب ۱۲۰۳۰۴۱

د لیږد پروسې د یوې برخې په توګه کیداي شي بانک په دې اړه یا د تفصیلاتو برخه ولري او یاهم د ملاحظاتو برخه.

یادداښت: د سوفیټ (SWIFT) شبکې د معلوماتو په برخه کې او د کورني بانک د الکترونیکي لیږد د ملاحظاتو په برخه کې باید د مالیه ورکوونکي د پیژندني نمبر او د فورمې مسلسله ګڼه ولیکۍ. دِ فورمې مسلسله ګڼه د هرې مالیاتي فورمې د ښي اړخ په پورتني کُنج (برخه) کې شتون لري.

**څلورمه مرحله:**
په سملاسي توګه مالیې وزارت ته په لاندې پته EFT.tax@mof.gov.af لیک واستوۍ او لاندې معلومات پکې شامل کړۍ:

- خپل د مالیه ورکونکي د پیژندني نمبر
- ستاسو د شرکت نوم
- د هغې مالیې ډول چې تاسو یې د بریښنا له لیارې ورکوۍ او دهغې فورمې مسلسله ګڼه چې له دې ورکړې سره تړاو لري.
- د رقم د لیږد په اړه غوښتنه او د لیږد اسعار
- د لیږد لپاره ستاسو لخوا ټاکلې یا غوښتل شوې نیټه

- د لیږدول شوي رقم د لاسته راوړلو په موخه د لاسته راوړونکي شخص نوم، د ټیلفون شمیره، او د بریښنالیک پته.

**پنځمه مرحله :**
مالیاتي فورمې د مالیې وزارت د لویو مالیه ورکوونکو په ریاست کې د معلوماتو د طي مراحل کولو ځانګې ته تسلیم کړی.

کله چې د افغانستان بانک لخوا تصدیق شي چې ستاسو ورکړه ترلاسه شوې ده، مالیې وزرات به د هغو معلوماتو له لیارې له اړوند شخص سره تماس ونیسی. چې تاسو د بریښنالیک لیک لیارې دې وزارت استولي وه.

کله چې تاسو دا خبر ترلاسه کړی، تاسو مکلف یاستې چې خپلې اصلي مالیاتي فورمې د مالیې وزارت د لویو مالیه ورکوونکو ریاست د معلوماتو د طي مراحل ځانګې ته تسلیم کړی.

د پورتنیو فورمو د تسلمیدو پرمهال به د نوموړې ځانګې کارکوونکي ستاسې ورکړې تصدیق او په بدل کې به یې تاسو ته یو رسمي رسید درکړي.

## معلومات له کوم ځاي نه ترلاسه کیداي شي؟

لاربښووني، لاربښودونه او فورمې د عوایدو لوي ریاست په مالیاتي ادارو او مستوفیتونو کې شتون لري او مالیه ورکوونکو ته له کوم لګښت نه پرته (مفت) ورکول کیږي. نوموړي اسناد هم په چاپي بڼه او هم په لاندې ویب پاڼه کې (چې د ترلاسه کیدو وړ دي) شتون لري:
http://www.ard.gov.af.
په ویب پاڼه کې د عوایدو لوي ریاست د مالیاتي ادارو او مستوفیتونو د تماس پتې او کاري وختونه شتون لري. همدارنګه مالیه ورکوونکي کولاي شي چې د ویب پاڼې له لیارې هر ډول ګټور معلومات لکه عامه اعلانونه او طرزالعملونه، پرمعاش باندې د

موضوعي ماليې، د ۱۳۸۷ کال پرعايداتو باندې د مالياتو قانون او د مالياتو قانون د تعليماتنامې په اړه پوښتنې او ځوابونه، ترلاسه کړي. پرعايداتو باندې دمالياتو قانون تعليماتنامه هره ماده او اړوند مقررات د بيلګو په وړاندې کولو سره تشريح او توضيح کوي.

001E 01 03 2012

د افغانستان اسلامی جمهوریت
د مالیی وزارت
د عوایدو لوی ریاست
۱۳۹۱

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Finance
Afghanistan Revenue Department
1391
*www.ard.gov.af*

جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت مالیه
ریاست عمومی عواید
۱۳۹۱